مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رشید ۲۰۲۱/۱۱/۱۹

# استاد رشاد ته

## منظوم لیك

یادونه:

د ۱۹۹۵ کال دسپتمبر میاشت وه چي له جنګ ځپلي کابله په توره شپه کي ډيلي ته را ورسيدم، خوميا شتي مو په ډيروسختيوکي دهندوستان د بيروکراسی پرلامل تيري کړې، په ډيلي کي په هغوشپوکي استاد شاکراوملي سوداګرآقامحمدخان ريس صاحب ,هاتف صاحب اوسناتورصاحب سلطان علومی، سربلند صاحب دوی تول اوسيدل، خوزه خبرنه وم ، اروا ښاد شاکرصاحب يوه ورځ پوهنتون ته راغلی و، خوزه لاهم پوهنتون ته نه وم ورننوتی، له ډيروشيپو وروسته مي د ريس صاحب د زوی ګران متين جان له برکته ټول پيداکړل، سره له دي چي سخت خواشيني وم ، خو ددوی شته والی روحيه راکړه، ناسته پاسته موسره پيل کړه، يوه ورځ ريس صاحب راته وويل چي رشاد صاحب ځو تنوته ويلي ول چي موربايد ستا پوښتنه وکړو، يوځوک په نن سبا کي کابل ته ځی که کوم ليک استاد ته ليږې ويې ليکه چي هم ستا درک ورمعلوم شي اوهم يي زړه ستا له خوا ډاډه شي. ما داکاروکړله يوه لنډکي ليک سره مي دغه شعر ورته وليکه چي نن يي له تاسوګرانو دوستانوسره دعلامه رشاد د زيږد په مبارکه سلمه کي له تاسوسره شريکوم اوله پاک خدايه دهغه لوی انسان له پاره د فردوس جنت هيله کوم.

درنښت
رشيد

## ليك

**په خوب دي وينم ،**
**د يرمي ياديږي ،**
**خدای د ډزوند کښتی دخضر په چينه وروله.**
**خدای دي د لمر په شان ځلانده لره ،**
**چي شپه او ورځ مي د اميد په تکل**
**لکه د خدای ميلمه له زړه ونه وځي.**
**ډيره موده وشوله،**
**چي زه دسبزو د ځنګل په ګڼ کي کله کله**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ستورو ته ګورم او شعرونه ليکم.
ځو مي د زړه درد ديوې شيبې تسل ومومي .
زه دخنګل په ګڼ کې ،
دسلو، زرو ګروهو ( يوه ) تکي ته
دورځي ځوځلي سرټيتوم .
اخ چي د (يوې ) ګروهي دميني مستان
اوس دمنصور دبچي شرنګ نه لري،
هريو چي ګورم دزيرې تبې زګيروي يي جګ دي
او دزيرې تبې په غم اخته دي.
ددې ځنګل په ګڼ کې ،
دلته چي اورلګيږي شمعې بل دي ،
اوپتنګان دلړمانو پر نيښونو باندې شمعو ته ګډاوې کوي.
دلته چي هرڅه سپين وو
لکه دلمر رڼا پرسپينو زرو
کرار کرار بې زوال ليږي د هيربنت په لوري
او دزنګيانو سيوري لويږي د (( رڼا)) په سيکه
ځويې نور ځوک ددې ځنګل په منځ کې ،
په ارزښت ونه بولي ....
په خوب دې وينم ،
ډ يرمي ياديږې ،
خداى د دژوند کښتي دخضر په چينه وروله.

دلته يو ګڼ ځنګل دی ،
کله چي ما دلته يو ځو شيې وکړې ،
يوورځ يو ښکلی سهار ،
دبام له سره مې ځنګل کتلو،
لمر په کي ډوب ، ډوب کيده
پرسره بدن يې دځنګل لښتي ،
تغمي تغمي وې .
آ خوا مي سترګې په ناڅاپي توګه ،
ديوې لوړتيا لويې وروکاړلې ،
هغه چي اوس هم په دې تول هند بار کې
ترځان لوړتيا نه مني ،
لکه دتاپه شانې...
هغه دقطب منار !
بله ورځ ښارته ولاړم ،
هلته مي (خلك ) ليده ،
چي په بيا هريوه پوښتنه کړله :
ته له کا بله راغلې ؟
ته په کا بل کې وې لا ؟
هغه رشاد چيرې و ؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**هغه رشاد څنګه و ؟**
**هغه رشاد ژوندی دی ؟**
**هغه زموږ او تاسو ګډه هستي ... !**
**مابنام چي بيا په ځنګل ننوتم ،**
**سپوږمۍ راوختله ،**
**هم هغه ښکلي سپوږمۍ**
**اه دشيرشاه دځوانۍ**
**آه دلوديانو دشرنګ**
**هغه مي هم وکته،**
**په هم هغه مهال ،**
**په هغه نرمه او خوږه شيبه کي**
**ديوه سپيڅلي احساس په غيږکي**
**پوه شوم چي دوه نومونه**
**ديوه اميد په لوري ما خوځوي ...**
**او لکه چي راته يوڅوک وايي :**
**هو، دغه دوه نومونه ډيراوچت دي**
**ډيراوچت دي :**
**هو، يو دقطب منار ،**
**او بل تلياتي (رشاد) !**

نوی ډيلی ، نهرويوهنتون
د ۱۳۷۵ کال دحمل ۲۸


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ